څوک چې د الله جل جلاله په لار کې (په جهاد کې) يوه ورځ روژه ونيسي، الله تعالى به يې اويا کاله مخ له اور څخه لرې وساتي

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «څوک چې د الله جل جلاله په لار کې (په جهاد کې) يوه ورځ روژه ونيسي، الله تعالى به يې اويا کاله مخ له اور څخه لرې وساتي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې چا په جهاد کې يوه ورځ روژه ونيوله، او ويل شوي چې په جهاد او يا بل څه کې پدې شرط چې خاص د الله لپاره او له الله تعالى څخه د اجر او ثواب تر لاسه کولو په نيت وي؛ نو الله تعالى به په خپل فضل د هغه او د اور تر منځه اويا کاله لرې والى راولي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4436